خالق رشید
۲۰۱۷/۰۶/۰۱

# دکابل تصویر ،

# د آسمايي تصوير





جان،جان ځنګه جنګونه په کابل کیږي
ځه اوښکي ويني فوارې شوي دلته ،
ځه تورې زلفي د خمارو سترګو،
په دې باروتو کې خورې، ورې شوې.
ځه د شملو بازار مې سوړ غوندې شو.
ځه د ګلونو رنګينه ښکلا مې
په دغه کلي کې په غم واوښته :



وای ،وای دا ځه ظلمونه په کابل کیږي.
جان،جان ځنګه جنګونه په کابل کیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څه سپيني خولي له خنداګانو ډکې.
اوس د وحشت له غمه ساندې وايي
څه په نازونو نازولي کاته،
له نازولو نه مرګي اخلي ،
څه د ماښام د غريبانو آوې ،
د عاشقانو ،عارفانو ښنګ کي
د سرو مردکو د بازار کرېږو ارامي کړلي



وای،وای څه کوزارونه په کابل کيږي
جان،جان ښنګه جنګونه په کابل کيږي
څه پېښتني په سفر وخوځيدی
تناکي پبني په هغو لارو اوري ژاړي،ژاړي
چي پرې پرون هغه سرلوړی روسی اوانګريزی ،
د ليوني قصاب په شان ووتل.
څه د تاجکی نجلی ناز نامراد شو،
چي له دې کلي مسافره درومي،
خدايه ګناه يې څه ده ،څه يې کړي
چي د سالنګ او جګدلي شمال يې ،
د سره سالو پيڅکي په قار رپوي :



وای،وای څه فريادونه په کابل کيږي
جان،جان ښنګه جنګونه په کابل کيږي
څه د مرګونو قافلي راغللي ،
څه قافلي په مرګ ښيوکي لاړي ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

چې بې ګودره یې مزل پیل کړ ،
څه دروغجن په رښتیاینه راغلل ،
څه رښتیاني په دروغجنه لاړل ،
څه ودانی په کنډوالو واوښتې ،



څه ترانې دماشومانو چوپ شوې ،
کنډرکنډر کوڅې سرې ډاروي ،
زموږ دمینې دکابل په ښارکې
په یوه تورتم باندې اوښتې یوموږ
کله چې نیمه شپه له خوبه جګ شې ،
اودکابل آرام زړګي ته غوږ شې ،
نویورنځور غوندې زګیروي به واورې :



وای  وای ناحق مرګونه په کابل کیږي ،
جان،جان څنګه جنګونه په کابل کیږي

کله چې نیمه شپه له خوبه جګ شې ،
او آسمایې په خوبولي نظر ښه وګورې ،
نویوانځور به درکړي ،
یوتاج محل به ګورې ،
دتورو تورو مرمري ډبرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



**چې په کې سرې لمبې اورونه بل دي**
**سترګې به پټې کړې ژړا به درشي**
**او یوناڅاپه به یوغړ بیا واورې ،**
**دیوی غلګنې ډلې ،**
**چې پردې ښار راغلي ،**
**زړه به دې درد وکړي ،**
**لاس به په سرونیسي چیغې به کړې :**



## وای وای څه تاړاکونه پرکابل کیږي
## جان،جان څنګه جنګونه په کابل کیږي

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ